صدیق الله بدر ۲۰۲۲/۰۵/۲۲

ستاسو ښار

د چوپتیا ګوته پر خوله ایښې ده
مینه په کې د تېښتې پر لاره ورکه
کلماتو د زړه په کتاب کې
شور جوړ کړی
او ماته کړې یې د خوب پنجره ده
خدای زده خوب د ژوند د وچکالۍ وهلې باغ
د کومې ونې
پر تنکۍ څانګې زانګې
وېرېږم
باد ښار ته مخه کړې
غواړم د ذهن سارا مې د باد پر پښو وتړم
چې خوب تر لاس نیولی
د چوپتیا په جنازه کې
په یو کتار کې ودرېږو
خو لږ وخت غواړم
د ژوند په وچ باغ کې
ډېرې څانګې تنکۍ پاتې دي
خوب به مې خدای زده
پر کومې تنکۍڅانګې زانګې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ